# کرونا ویروس او د خلکو غږ

خپرنیزه میاشتنۍ — اکتوبر ۲۰۲۰

BBC MEDIA ACTION
TRANSFORMING LIVES THROUGH MEDIA AROUND THE WORLD

Global Affairs Canada — World Health Organization

## اړین ټکي

*د ښوونځیو، پوهنتونونو او دولتي ادارو په بیا پرانېستلو سره، ددې خبرې ډیری ګډونوال په دې اند دي چې شرایط عادي شوي دي. خو بیا هم، ځینو ویل په دې سره  ممکن د کرونا ویروس لا ډېر خپور شي.*

*ځینې ګډونوال بیا د احتمالي دوهمې څپې له راتلو او د مثبتو پېښو  د زیاتېدو له کبله اندېښمن بریښېدل. خو ډیری خلک بیا د دوی پر روغتیا د اغېزو  پر ځای د دوی پر ژوند او  معیشت د بندیزونو له امله  اقتصادي اغېزو ته ډېر اندېښمن دي.*

*ددې خبرې ډیری برخه والو اندېښنه درلوده چې دوی به په دې برخه کې له دولتي او نا دولتي سکتورونو څخه هیڅ ډول ملاتړ ترلاسه نه کړي. ګډونوال په دې باور و چې دغه وبا له منځه تللې یا نوموړی ویروس کمزوری شوی دی، یوازې یو څو تنو یې د مخنیوي اقداماتو پلي کولو په اړه خبرې کولې. که څه هم، د داخلي بې ځایه شویو په ګډون، ډیری برخه والو سرچینو  ته لګ لاسرسی او د مالي ورتیا نشتوالي په دې برخه کې د خپلو ستونزو په توګه یاد کړل. په داسې حال کې چې د ډیری خلکو لپاره تلویزیون او راډیو د کوېډ-۱۹  په تړاو  د مالوماتو د ترلاسه کولو لپاره تر ټولو کره سرچینې ګڼل کیږي.*

*ښونځي ته تلونکي ماشومان هم د یوې اضافي سرچینې په توګه ګڼل کیږي چې دوی هغه څه چې د کوېډ-۱۹  په تړاو په ښونځي کې زده کوي د کورنۍ له نورو غړو سره یې شریکوي. روغتیایي اسانتیاو ته لږ لاسرسی او د ښځو د فزیکي او رواني روغتیا په برخه کې اندېښنې هغه څه دي چې د کلیوالي سیمو خلک لا هم ورسره لاس او ګریوان دي او په دغو سیمو کې*

*روغتیایي کارکونکو د کرونا ویروس په اړه سمه پوهه نلري نو ځکه یې له ناروغانو سره چلند تر ډېره ناسم دی.*

*"موږ اوبه ته لاسرسی نه لرو، پیسې نه لرو چې ماسک پرې واخلو او د یوې مرۍ ډوډۍ پیدا کولو  وس هم نه لرو. یوازې پر خدای موتکیه ده او بله کومه لار  نه لرو." (یو بېځایه شوی سړی، میمنه، فاریاب)*

### مهمې موندنې

**"عادي حالت" ته د راګرځېدو انګېرنه**

که څه هم ټول خلک کوېډ-۱۹ د یوې داسې ناروغۍ په توګه مني چې د کرونا ویروس له امله پیدا کیږي، د کلیوخلک، په ځانګړي توګه نارینه دغه ناروغي جدي نه ګڼي، کوېډ-۱۹ ته د یوې ښاري ناروغۍ په سترګه ګوري (په دې اړه د لازیاتو مالوماتو لپاره د سپټمبرخپرنیزه میاشتنۍ وګورئ).  د ښونځیو، پوهنتونونو، ورزشي سیالۍ، حکومتي ادارو، او مارکېټونو په بیا پرانېستو سره په ښاري او کلیوالي سیمو کې ډیری خواب ویونکي اوس داسې فکر کوي چې په هر ځای کې وضعیت بېرته عادي شوی. برخه وال بیا هم په خپل باور ټینګار کوي چې دغه ویروس مسلمانان لږ اغیزمنوي، ددې ځرګندونه کوي چې د کوېډ-۱۹ له امله په فغانستان او نورو اسلامي هیوادونو کې لږ شمېر تلفات رامنځته شوي دي.

*"خو میاشتې وړاندې، زه جومات ته د لمانځه لپاره نه تلم ترڅو په دې توګه پر کرونا ویروس د اخته کېدو څخه ځان وساتم، خو اوس جومات، پوهنتون او کار ته ځم. په دې ښار کې هرڅه عادي بریښي او زه داسې نښې نښانې نه وینم چې خلک دې ګوندې د کوېډ-۱۹ په اړه اندښنه ولري." (د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ یو اوسېدونکی)*

**د ښوونځیو بیا پرانېستل کېدل**

که څه هم ددې څېړنې دواړو نارینه او ښځینه ګډونوالو داسې احساس کاوه چې د ښووونیزو بنسټونو په بیا پرانېستو سره عادي حالت را ګرځېدلي، دوی اوس هم اندیښنه لري چې دا چاره به د ویروس پر خپرېدو اغېز وکړي. ډېری په دې باور دي چې ښونځي او پوهنتونونه دا ظرفیت نه لري چې د ټولنیز لرې والي لارښوونې په پام کې ونیسي او دا امکانات هم نه لري چې زده کوونکو ته ماسکونه وویشي یا هغو ته نورې اسانتیاوې لکه پاکې اوبه او صابون برابر کړي.

*"نن د خپل یوه ښوونکي له مرګه خبره شوم. هغه د ښونځي د بیا پرانېستل کېدو وروسته په کرونا اخته شوی و او پرون ومړ. نه پوهېږم چې د هغه څومره نور همکاران او زده کوونکي به اخته وي ځکه د سرچینو د کمښت له امله په هر ټولګي کې له ۴۰ – ۵۰ تنه زده کوونکي دي، په ښونځي کې د ټولنیز واټن په پام کې نیول ناممکن دي." په فاریاب کې یوه ښځینه خبریاله)*

**دبلې څپې او اقتصادي ستونزو وېره**

له بل پلوه، په ټولو ښارو ولایتونو کې چېرې چې دغه څېړنه ترسره شوې د څېړنې نارینه او ښځینه برخه والو دواړو د کوېډ-۱۹ د دوهمې احتمالي څپې او له امله یې د دوی پر معیشت او ورځنې ژوند د اقتصادي اغېزو له کبله اندیښنه ښودلې. ډېری برخه والو ویلي هغه بې روزګاري او اقتصادی ستونزې چې د کوېډ-۱۹ له امله د قرنطین په میاشتو کې زیات شوې وو لا هم عادي حالت ته نه دي راګرځیدلي. دوی وېره لري بیا ځلي قرنطین به نه یوازې بې کاري او اقتصادي ستونزې نور هم ډېرې کړي، بلکه لومړنیو سرچینو او روغتیایی پاملرنې ته لاسرسی به هم محدود کړي. ځیني خلک وایي له وړاندې ځینو لرو پرتو سیمو ته د ژمي په موسم کې روغتیایی اسانتیاوې کمې شوي دي.

ددې څېړنې هغه شمېر نارینه او ښځینه برخه والو چې د داخلي بې ځایه شویو له ډلې وو، دوی هم ورته اندېښنې څرګندې کړې. دوی د ژمي په میاشتو کې لومړنیو خدمتونو او روغتیایي پاملرنې ته د لاسرسی په برخه کې اندیښنه ښودلې او په وېره کې دي چې بیا ځلې قرنطین به حالت نور هم خراب کړي.

د څېړنې ډېری برخه وال په دې باور دي چې حکومت د نوموړې وبا پرمهال خلکو سره د مرستې په برخه کې پاتې راغلی او ترټولو اړمنو کورنیو ته د فساد له وجې حکومتي مرستې ندي رسېدلي. دوی په دې باور دي که دوهمه څپه راشي او له امله یې قرنطین رامنځته شي همغه حالت به تکرار شي. دوی  همدارنګه په دې باور دي چې د نا دولتي ادارو مرستو هم بسنه نه کوله،  له کنذز  څخه د یوه ګډونوال پرته، نورو ګډونوالو  په تېرو څو میاشتو کې د نادولتي ادراو د کوېډ-۱۹ اړوند مرستو یادونه نه ده کړې.

*"خلک د کوېډ-۱۹ د دویمې څپې څخه په وېره کې دي. احتمالي قرنطین به اقتصادي ستونزې ډېرې کړي. زه د خپلې کورنۍ مسولیت پر غاړه لرم. که بیا قرنطین ولګیږي، زه ممکن خپله دنده له لاسه ورکړم او زما کورنۍ به د خوړو لپاره څه ونه لري." (یو ژورنالست، فاریاب)*

سریېره پردې، ځینو ګډونوالو ویلي له هېواده بهر د کوېډ-۱۹ له امله منفي اقتصادي اغېزو په افغانستان کې د هغو کورونیو عواید کم کړي چې د کورنۍ غړي یې له بهره ورته پیسې را لېږي. نو له همدې امله په ګاونډیو هېوادونو او په ټوله نړۍ کې د کوېډ-۱۹ څپه د دوی لپاره اندیښمنونکې ده.

*"ما د مخنیوي ټول اقدامات لکه د ماسک تړل، د لاسونو مینځل، په غونډو کې لکه ودونو کې نه ګډون، مې په پام کې نیولي و، خو په جومات کې له لمانځه، یا جنازو ته له تګه او نور دیني مراسمو نه پرځای کولو څخه راستون نشوم. ناروغ نه شوم او د کرونا ویروس ونه نیولم." (په هلمند کې یو سیمه ایز مشر)*

**پر ښځو رواني او فزیکي فشارونه**

ددې څېړنې نارینه او ښځینه برخه والو ویلي کوېډ-۱۹ او هغه بندیزونه چې د قرنطین پرمهال لګیدلي وو په ښځو کې د رواني ستونزو لامل شوي او همدارنګه په دې موده کې د ښځو پر

وړاندې تاأوريخوالې ډېر شوی دی. د دايکندي ولايت يو اوسيدونکي ويلي ددې وبا په لومړيو مياشتو کې د ده يو نږدې خپلوان د مېړه له ناوړه چلند سره مخامخ شوه.

*"زما د تره لور د کوويد-۱۹ ناروغۍ له خپراوي مخکې هم ناروغه وه، خو د يادې ناروغۍ د خپراوي پرمهال يې ناروغي سخته شوه، ښايي په کوويد-۱۹ ناروغۍ اخته شوې وه. کورنۍ يې روغتون ته وېښوره.... دليل يې دا وو چې هغوي د روغتيايي مرکز څخه ډېر لرې اوسيدل، او خاوند يې هم د ناروغۍ پروا نه لرله." ( سړی، د راډيو اوريدونکی، دايکندي)*

د کرونا له امله ښځې د نارينه وو په پرتله له ډېرو اقتصادي ستونزو سره مخ شوي. دغې وبا د ښځو د ګټې وټې سرچينه زيانمنه کړې.

*"د خواجه سبزپوش ولسوالۍ نجونې په هره برخه کې زيانمنې شوې. موږ د نجونو د خياطۍ يو ټولګی درلود چې د کرونا له امله وتړل شوو."(د فارياب ۲۴ کلنه خبرياله)*

**"بې خبره روغتيايي کارکونکي"**

په ولسواليو کې د څېړنې ډېری ګډونوال وايي چې دوي د کرونا ويروس ځانګړو روغتيايي مرکزونو ته لاس رسی نه لري، روغتيايي کاروکونکو د کوويد-۱۹ ناروغۍ په برخه کې روزنه نه ده ليدلې او په دې نه پوهيږي چې څرنګ د کوويد-۱۹ ناروغانو درملنه وکړي. د لرو پرتو سيمو څخه د څېړنې اکثره ګډونوال وايي چې دوي داسې کسان ليدلي چې کلينيکونو ته تللي خو د ډاکټرانو او روغتيايي کارکونکو لخوا ورسره هيڅ ډول مرسته نه ده شوې.

*"زما ماشوم ناروغ شو، کلينيک ته مې يووړ. په کرونا ويروس د اخته کيدو له ويرې، ډاکټرانو معاينه نه کړ." (ميرمن، خُلم ولسوالۍ، بلخ)*

**ښوونځي د کرونا د معلوماتو نوې سرچينه**

په داسې حال کې چې رسنۍ( ټلويزيون، راډيو او ټولنيزې شبکې) د معلوماتو اصلي سرچينه ګڼل کېږي، د څېړنې ډېری ګډونوال وايي چې ماشومان د معلوماتو د خپراوي بله سرچينه ګڼل کيدای شي، ځکه چې دوي د ښوونځيو څخه ډېر معلومات ترلاسه او له خپلو کورنيو سره يې شريکولی شي. ډاکټران او روغتيايي کارکونکي د ښځاييه شويو خلکو لپاره د معلوماتو اصلي سرچينه ده، خو ځينې يې د راډيو له لارې هم معلومات ترلاسه کوي.

د قرنطين پرمهال، حکومت په لرو پرتو سيمو کې د کوويد-۱۹ معلوماتي مرکزونه رامنځته کړي وو چې د خلکو لپاره په ځانګړې توګه د نارينوو لپاره د معلوماتو سرچينه ګڼل کيده. خو د کندز، ننګرهار او فارياب په ځينو نا امنه ولسواليو کې د کوويد-۱۹ ناروغۍ په اړه معلوماتو ته لاس رسی ډېر لږ دی. په يادو سيمو کې خلک وايي دوی ټلويزيون، راډيو او د عامه پوهاوي نورو کمپاينونو ته لاس رسی نه لري، او کمپاينونه لومړی بايد د دولت ضد عناصرو له فلټر څخه تېر شي.

*«د عامه پوهاوي کور په کور کمپاين ډېر ګټور دی، ځکه موږ ټلويزيون ته لاس رسی نه لرو او د راډيو د اوريدو لپاره هم ډېر وخت نشته، ځکه چې تل د کور په چارو کې بوخت يو. »(د راډيو اوريدونکې، هلمند)*

**د روغتيايي لارښونو پر وړاندې بې پروايي**

که څه هم چې خلک د احتياطي تدابيرو او روغتيايي لارښونو په باب معلومات لري او په دې پوهيږي چې ياد تدابير د کرونا ويروس له خپراوې څخه مخنيوی کوي، خو ډېری کسان وايي چې دوي نور دغه احتياطي تدابير او روغتيايي لارښونې په پام کې نه نيسي. د ټولنيز او فيزيکي واټن ساتل، په پرله پسې توګه په صابون باندې د لاسونو مينځل او د ماسک اغوستل په هغه لاښونې دي چې خلک يې په اړه مالومات لري. د څېړنې ډېری ګډونوال د ښځايه شويو په ګډون په يوه خوله دي دوی د روغتيايي لارښونو د نه پلې کولو لامل روغتيايي توکو ته لږلاس رسی ګڼي.له دوی سره دا انګېرنې هم شته چې ګواکې دغه ويروس نور کمزوری او يا بيخي له منځه تللی.

## آوازې او ګنګوسې

- کرونا ویروس(کووید-۱۹) د والګي په شان یوه ناروغي ده، نو څکه خطر نه پېښوي.
- ډېر شمېر خلک له دې امله چې د کووید-۱۹ ناروغۍ څخه وژغورل شي د اسلام په دین مشرف شول او له نورو مسلمانانو څخه يې وغوښتل چې د دوی د خوندیتوب لپاره دعا وکړي.
- په فاریاب ولایت کې یو یوناني(دودیز) طبیب په دې اند دی چې زرک ابران ونې ریښه، زنجبیل، سیادانه او خاکشیر په شان طبیعی بوټو کارول، په یادې ناروغۍ اخته ناروغانو په رغیدو کې مرسته کوي. دی ادعا کوي چې دی ، میرمن يې او ګاونډیان يې چې په دې ناروغۍ اخته شوي وو، د یادو طبیعی بوټو په کارولو سره، رغیدلي دي.

**خلک اوس کوم مالومات غواړي؟**

- دوي غواړي د والګي او کووید-۱۹ ناروغۍ ترمنځ توپیر په اړه معلومات ترلاسه کړي.
- همدارنګه دوي غواړي چې د کرونا ویروس د خپراوي په کموالي او یا ډېروالي د هوا د اغېزې په باب پوه شي او دا چې دوي څرنګه کولای شي په ژمي کې ځان له دغه ویروس څخه وژغوري.
- دڅېړنې ګډونوال غواړي په دې پوه شي چې د دوی په ټکو ولې د نورو هیوادونو په پرتله په افغانستان کې د کووید-۱۹ ناروغۍ له کبله د مېرنې کچه ټیټه ده.

## د څېړنې میتودولوژي

موږ د اکتوبر میاشت په لومړۍ اونۍ کې د فاریاب، بلخ، کندز، دایکندي، ننګرهار او هلمند ولایتونو په ګډون په شپږو ولایتونه کې ۳۸ هراړخیزې مرکې ترسره کړې. هغه ډلې چې ورسره مرکې شوي دي په لاندې ډول دي:

- د راډیو شپږ نارینه او نهه ښځینه اوریدونکي
- د کلیو د پراختیايي شوراګانو څلور ښځینه او اته نارینه غړي
- اته نارینه او درې ښځینه فعالې خبریالانې

همداراز، موږ په بلخ او فاریاب ولایتونو کې د بېځایه شویو خلکو سره دوه مخامخ ډله‌ایزې(فوکس ګروپ) کیفي مرکې هم وکړې.

د کووید-۱۹ ناروغۍ پرمهال د خلکو د وضعیت د پوهېدو لپاره ، موږ د هغوي د اوسنیو اندیښنو، د کووید-۱۹ ناروغۍ په اړه د هغوي د پوهې او معلوماتو کچې او دا چې دوي په دې برخه کې کومو معلوماتو ته اړتیا لري او د دوي د مالوماتو سرچینې کومې دي، وپوښتل. د راډیو له اوریدونکو وغوښتل شول چې خپلې تجربې او د سترګو لیدلی حال له نورو سره شریک کړي او د کلیو د پراختیايي شوراګانو له غړو او خبریالانو څخه وغوښتل شول چې خپلې شخصي او د سیمې د خلکو د تجربو په اړه معلومات ورکړي. د یادو مرکو سربېره، د څېړنې موندنې او معلومات د کرونا ویروس په هکله د بي بي سي میدیا اکشن د نورو څېړنو له موندنو سره چې د کووید-۱۹ ناروغۍ په برخه کې روانې دي، پرتله او ارزول شوي دي.

د څېړنې له پیلېدو څخه مخکې، د کرونا ویروس سره د مبارزې کاري ډلې(*RCCE*) سره مو سلا مشوره وکړه ترڅو وکولای شو د څېړنې د پوښتنلیک د چمتو کولو په لړۍ کې د دوي معلوماتي اړتیاوې په پام کې ونیسو.

**د خلکو غږ**

دا څېړنیزه میاشتنۍ د هغو خلکو د نظرونو پر بنسټ چمتو شوې ده چې د کووید-۱۹ ناروغۍ له کبله اغېزمن شوي دي. د دې څېړنیزې میاشتنۍ اصلي موخه د کووید-۱۹ ناروغۍ په اړه د خلکو د انګېرنو، او اندېښنو ته انعکاس ورکول دي، ترڅو روغتیایي او بشرپالونکې موسسو سره مرسته وشي چې خپل پلانونه او فعالیتونه په سمه توګه د خلکو له بنسټیزو اړتیاوو سره سم، پلې کړي. دا څېړنیزه میاشتنۍ د بي‌بي‌سي میډیا اکشن لخوا د روغتیا نړیوال سازمان او د کاناډا د نړیوالو چارو سازمان

(*Global Affairs Canada*) په مالي مرستې چمتو شوې ده، منځ پانګه یې بي‌بي‌سي میډیا اکشن پورې اړه لري، او پکې وړاندې شوي نظرونه بي‌بي‌سي او یا هغو تمویلونکو ادارو پورې اړه نه لري چې د خیره چارو څخه ملاتړ کوي.

> مونږ د نورو ادارو او سازمانونو د لا ډېرې همکارۍ هرکلی کوو چې غواړي د خپلو اړوندو کاري سیمو څخه د خلکو نظرونه له مونږ سره شریک کړي او یا د څېړنیزو خبرپاڼو په شننې او تولید کې برخه واخلي. که چیرې غواړئ له مونږ سره په دې برخه کې ونډه واخلئ، مهرباني وکړئ د لاندې برېښنا لیک پر مټ له مونږ سره اړیکه ونیسئ:
> rashed.hayati@af.bbcmediaaction.org